اخري برخه




# د پښتونخوا مقدمه

هدایت الله خان

د 1988 او 1998 د مردم شمارۍ مطابق پښتو ویونکي آبادي اتیا فیصده ده. د هندکو، چترالي، کوهستاني او ګوجري ژبو د ویونکو د آبادي مجموعي تناسب 18 فیصده دے او پاتې دوه فیصده کښې په مجموعي ډول سرائیکي، بلوچي، سندهي، پنجابي او اردو ویونکي شامل دي. دا خبره دې یاده وي چې په اتیا فیصده پښتو ویونکې آبادۍ کښې قبائلي علاقې شاملې نۀ دي. د قبائلي علاقې خلق په نسلي، قامي، لساني او جغرافیائي لحاظ د دې صوبې سره تړلي دي یعنې د دې صوبې برخه ده. چرته چې 99 فیصد نه زیات خلق پښتو وائي نو کۀ دا ورسره شامل کړے شي دلته د پښتنو فیصدي 90 فیصدو نه هم سېوا کېږي. په دې کښې د بلوچستان پښتانۀ نۀ دي شامل او هغه لکونه پښتانۀ پکښې هم شامل نۀ دي چې په مستقله توګه د پاکستان په نورو صوبو کښې ژوند کوي. د یوې اندازې مطابق صرف په سندھ کښې 40 لکه پښتانۀ آباد دي. دا شمېره د نن نه ؟؟؟شل او لس کاله وړاندې شوې ده. دلته دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې په قبائلي علاقو کښې د مخصوصو کشالو له کبله د هغۀ ځائے د شوې سرشمېرنې په رپورټ پوره باور هم نۀ شي کېدے او هم دا وجه ده چې د قبائلي علاقو خلق هم دا نۀ تسلیموي او د هغوي دعويٰ ده چې زمونږ آبادي د یو کروړ نه سېوا ده. حال دا دے چې د 1998 سرشمېرنه کښې د هغوي آبادي 5.7 میلینه ښودلې شوې ده.

د پښتونخوا مخالف کالم لیکونکي د بې لارې کوونکو لیکونو هدف اکثر د هزارې هندکو ویونکي ورونه وي نو ځکه دې پله هم توجه ورکول ضروري دي.

د هندکو ویونکو زیات شمېر په هزاره کښې دے. د هزارې نه علاوه د پېښور، کوهاټ او ډي آئي خان دننه ښاري آبادیو کښې هم د هندکو ویونکو څۀ لږ شمېر آباد دے. هزاره د صوبې د ټولې آبادۍ شل فیصده ده او دا د ایبټ آباد، هري پور، مانسهرې، بټګرام او کوهستان په پنځو ضلعو کوهستان او

بټګرام کښې پښتو او کوهستاني د واضح اکثریت ژبې دي. په دې دوو ضلعو کښې هندکو ویونکي نشته. د ایبټ آباد، هري پور او مانسهرې ضلعو کښې هندکو اکثریتي ژبه ده چې ایبټ آباد کښې **95** فیصده، هري پور کښې **90** فیصده او مانسهره کښې **70** فیصده هندکیان آباد دي. په دغه ضلعو کښې د پښتو ویونکو آبادي بالترتیب **10-10** او **30** فیصده ده. بټګرام کښې د پوره ضلعې اکثریتي ژبه پښتو ده. دغه شان د هري پور په غازي او سریکوټ او د مانسهرې په بټل، بفه او اوګی کښې پښتو اکثریتي ژبه ده. په مجموعي ډول هندکو په هزاره ډویژن کښې د **51** فیصده خلقو ژبه ده او پاتې شوې**49** فیصده کښې د پښتو، کوهستاني او ګوجري ژبې شاملې دي چې پښتو پکښې **30** فیصده ده. دلته یوه بله خبره هم کول ضروري دي. د بټګرام د پوره ضلعې او د مانسهرې د پښتو ویونکو پښتنو نه علاوه د هزارې په هندکو ویونکي ابادۍ کښې خپله یو لوئے شمېر د هغه پښتنو قبیلو دے چې د علاقائي اثراتو له کبله ئې خپله ژبه پرېښې ده یا ترې پاتې شوې ده. په دوي کښې د هري پور مشوانې، طاهرخېلي او ترین، د ایبټ آباد ضلعې جدون او یوسفزي او د مانسهرې ضلع کښې شامل د پاړا علاقې کالا ډاکه پښتنائه قبائل شامل دي.

دغه رنګ دې تېره موده کښې چې د پېښور په نشترهال کښې د ګندهارا هندکو بورډ له اړخه فرنټئیر لینګوېجز نېشنل کلچرل کانفرنس" شوے ؤ نو هغې کښې دوي نوے انکشاف کړے ؤ چې په دې صوبه کښې دېرش ژبې وئیلے کېږي او د صوبې د نوم په حقله هم د دوي دا موقف دے چې نوم داسې پکار دې چې د دې ټولو ژبو نمائندګي کوي.

دا ژبې داسې دي چې اکثریتي ویونکي ئې زرګونو یا سوونو کښې دي تر دې چې د یوې ژبې بدېش پکښې صرف درې تنه ویونکي پاتې دي نو داسې نوم څنګه ممکن نۀ دے چې د ټولو ژبو نمائندګي وکړي کۀ د دېرش ژبو خبره سمه وګڼو نو د فاټا سره د دې صوبې د پښتو ویونکو آبادي نوي فیصده ده نو پاتې **29** ژبې چې صرف لس فیصده دي څنګه د **90** فیصده برابر کړو.

د دې اعدادو شمار وړاندې کولو نه زمونږ مقصد څۀ لساني تعصب پېدا کول نۀ دي. د پښتونخوا ټولې ژبې د پښتونخوا سرمایه ده او ټولې ډېرې د احترام قابلې ژبې دي.

د پښتونخوا د نوم د مسئلې جائزه د دې د تاریخي جغرافیائي او قامي پس منظر کښې د دې مقصد دپاره واخستې شوه چې یو خو د دې مسئلې اصلي نوعیت واضح شي او دوېم د دې مخالفینو ته دا احساس ورکړے شي چې د پاکستان وفاقي ډانچه دلته د اوسېدونکو ټولو قامونو په اشتراک ولاړه ده او د دې د مضبوطوالي او بقا انحصار د دې قامونو د حقونو په احترام کښې دے. د دې وفاق دوام او استحکام د دې د اکایانو دحقونو په ضمانت ورکولو سره ممکن دے. د دې دپاره دا ضروري ده چې د خودساخته روایتي او منفي نعرو په شور کښې د دوي د حقونو پټولو او وهلو لاره پرېښودې شي او د پښتونخوا د نوم د مخالفت په ځائے پښتنو ته دا خپل قامي او جائز حق ورکړے شي.

(د امجد شهزاد ترجمه)